مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

سلطان جان کلیوال

۲۰۱۸/۰۸/۳۰

# په خوب کی

بیګاه می خوب لیدلی چی جانان راته خندل
دنیا راته خندل او ټول جهان راته خندل

جنډی د خوښی لکی وی د هر بام په بلی
لیدل می چی د کلی زوړ او ځوان راته خندل

اخترغوندی راټول می وو په کورکی لوی واړه
سپوږمۍ له خندا شنه وه کهکشان راته خندل

د سولې ترانې وی غږیدی هره دره کی
رحمان بابا خندل او ملنګ جان راته خندل

مجنون لیلا ته ایښی سټری سر ؤ په زنګون
ترخنګ یی ګلبشره وه طالب جان راته خندل

بندیز و لګیدلی په تبرونو او ارو
ځنګلونو د پکتیا او نورستان راته خندل

آمو، هیلمند، کونړ وو دیره شوی خپل کاله کی
د عُمَر وچو دښتو د افغان راته خندل

را پاڅیدم له خوبه کلیواله په خندا
لیدل می چی راویښ شوم دلبرجان راته خندل

ویل یی څه دی ولیدل په خوب کی د خندا ؟
ماوي ورته چی: ستورو د آسمان راته خندل

دی وي: خوب ریښتیا کیږی د انسان کله نا کله
ممکن چی راته شا شی د شیطان کله نا کله.

اګست/ ۲۰۱۸/۱۸
تورنتو ـ کاناډا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ